1062 متر مکعب

دکندهار ولایت د خاکریز ولسوالی د تور کوتل دساحی د تعمیراتی ډبرو پروتوکول د جامدو کانو ریاست او ( عبدالبصیر - نیرو نا مینګ بیرش شرکت ) تر منځ :

په دغه پروتوکول کې د جامدو کانونو ریاست د خرڅونکی په صفت
د( عبدالبصیر - نیرو نا مینګ بیرش شرکت )شرکت د مشتری په صفت.
۱ ــقراردادی مکلف دی چه د( 1062 )متر مکعبه تعمیراتی ډبری قیمت دفی متر مکعب مبلغ (۲۷)افغانی له قراره چه جمله مبلغ( 28674 )افغانی کیږی د معدن د ساحی په شمول پیشکی د کانو ریاست په حساب افغانستان بانک ته تحویل کړی.
۲ ــ قراردادی مکلف دی چه په حجم د( 1062 )متر مکعبه تعمیراتی ډبری د(۶۰)ورځو په موده کی استخراج او انتقال کړی.
۳ ــ د لوڅونی ،استخراج او انتقال مصارفات په قراردادی پوری اړه لری.
۴ ــدډبرو د استخراج او انتقال په جریان کی که کوم د معدنکاری داصولو او مقرراتو خلاف عمل تر سره شی مسولیت یی عام و تام د قراردادی پرغاړه دی.
۵ ــ قراردادی نشی کولای چه خپل تسلیم شوی بلاک جمعا یا جزا کوم بل شرکت یا شخص ته حواله کړی.
۶ ــ که چیری د پروتوکول په جریان کی غیر مترقبه حوادث چه دهغی پیشبینی دانسان د ذهن څخه خارج وی لکه(جنګ ــحریق ــ سیلاب ــ زلزله)او داسی نور پیښیږی قراردادی مکلف دی چه په (۴۸) ساعتو کی دکانو ریاست ته رسما اطلاع ورکړی.
۷ ــمالیه ــصکوک او نور تادیاتی تکسونه د قراردادی پرغاړه دی.
۸ ــد کانو ریاست مکلفیت لری چه وخت پروخت د قرلردلدی د استخراجی فعالیت څخه څارنه وکړی او کوم نواقص چه پیداکیږی رهنمایی ورته وکړی.
۹ ــقراردادی مکلف دی چه د خپلو کارګرانو لپاره صحی او ایمنی شرایط برابر کړی.
۱۰ ــقراردادی مکلف دی چه د چاپیریال ساتنی شرایط مراعات کړی.
۱۱- قراردادی نشی کولای چه بیله معقول عذره چه په قانون کی ذکر شوی وی د پروتوکول د معین معیادتر پوره کیدو ترد مخه پروتوکول یو جانبه بسخ کړی.
۱۲- که چیری د پرو توکول په جریان کی د مشتری د طرفه کوم ضرر امیزهاعمال او فاحش غبن صورت ونیسی چه ددولت منافع ته ضرر ورسوی یدی صورت کی ددولت طرف کولای شی چه پروتوکول یو جانبه فسخ کړی او مشتری د خساری په جبران مکلف دی.
۱۳- پروتوکول په (۱۳) مادو کی ترتیب او د ولایت دمحترم مقام تر منظوری وروسته داعتبار وړ دی.

نوټ :- د دغه دوه میاشتنی قیمالمت پروتوکول د ۲۱ / ۶ / ۱۳۹۲ څخه تر ۳۰ / ۸ / ۱۳۹۲ پوری د اعتبار وړ دی

په درنښت

دکانونو د ریاست امضا

دقراردادی امضا

عبدالبصیر

ولایت دمحترم مقام ملاحظه شد

D-04-442